AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۳/۲۲

# ستا یادونه

نوي کال ورخ او په طبیعت کې د نوي بدلون په پار ،خپلو خوږو هیوادوالو ته د مبارک له ویلو حیا راځي، چې د خپلو بیوځلو او دردمنو هیواد والو په درد مې د ځپل شوي احساس، دا دردمن پیغام،څرنګه هغوې ته ورسوم.

یوازې د تیر مهال یو نظم به ورسره شریک کړم، په دې هیله چې دا نوي روان کال، زموږ د ولس په ژوند کې نیکمرغه بدلون راوړي او په همدې تمه به دوعا کوو، چې تور وحشي غلیم په بشپړ ډول برباد او له منځه ولاړ شي. دا هغه وخت شوني ده چې ټول افغانان سره یو غږ او یو لاس، ملي یووالي ته ورسیږي.

## ستا یادونه

د یـادونو سلسلې دې په خـوبـونـو کـې مـې تـمـې
سـترګـې چـت تـه مـې نـیـولـې تـرسـبـا سپیده دمې

نن مي بـیا د زړه پـر کلي د یـادونو باران راغي
خاطرې د خپل مالت مي اوس پراته د بل په چم يي

ته له کوم کنډو پناه شوې او پر کومه الونیا شوې
لـتـوم دې د پـښـو پـلـونـه چې پر کومه لاره سم يي

کـوز د خـوږ پـر ښـویه تـیـګو به پښه مي لړیدله
تـیـندکـونو تـه اوبـو کې بـه ولاړتـه په هر دم يي

ګلورین وو ګلګخونه، چي نړدي وو زموږ زړونه
اوس له هسکه يي لمر تللي، پرې ولاړ مدام تورتم یي

پـر تـپـونـو د یـو بل چي جـوګـه نـه شـو د مـرهـم
د ښکاري ګوزار رسا شو چي اخته داسي په غم يي

د خـپـلـوۍ او نـږدیوالي له دې حسـه چي پردي شو
د غلیم نښه په ځاې شوه، په دې موږ په خپله ګرم يي

ځل د میني که څرک وکړ، نو ویده زړونه به ویښ شي
په هر سپوږ يي، محبت کې انتظار لره لوي زغم يي

د سـهـار ښاپیرۍ زیـرې د رنـا بـه راتـه راوړي
ګړنګونه تر شا پریږده، راځه ته مي خپل همـدم يي

د خپل کور پر سمسور بڼ بـه را شیوه مـیـنـي پـرخـه
نوی کال نوی پیغام شه پروت پر ګل د عشق شبنم یي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ